# افغانستان:
# د اقتصادي انتقال په هکله تازه معلومات

د نومبر د میاشتې ۲۷، ۲۰۱۴ کال

نړیوال بانک

# لنډيز

- د پرمختيا او پرمختيايی ننګونې
- د توکيو کنفرانس او انتقالی اقتصادي راپور اساسي پيغامونه
- اوسني اقتصادي او مالي پرمختګونه
- په مخکې شته لومړيتوبونه
  - د مالي پايښت (ثبات) بيرته لاسته راوړل
  - د باور اعاده او په خصوصي سکتور کې د کارونو د لارو چارو رامينځته کول
  - د ټولنيز پيوستون او د خدمتونو د وړاندې کولو پياوړتيا

# له انتقال څخه یوه لسیزه وړاندې (۱۲-۲۰۰۳): له یو ډیر کوچني بنسټ څخه د پام وړ پرمختیاوې

- **اقتصادي پرمختګ**
  - د ۱۲-۲۰۰۳ کلونو په لړ کې د کورنیو ناخالصو تولیداتو منځنۍ وده په سلوکې ۹،۴ وه.
  - د کورنیو ناخالصو تولیداتو فی سړي سر عاید زیاتوالی له ۱۸۶ $څخه په ۲۰۰۲ کال کې ۶۸۸ $ ته ۲۰۱۲ کال کې
  - د دولت د عایداتو زیاتوالی په ۲۰۰۳ کال کې په سلوکې ۳ ناخالص کورني تولید څخه به ۲۰۱۱ کال په سلوکې ۱۱،۶٪ ته.
  - د عامه مالي مدیریت ښه والی د دې سبب شو چې د بودیجې د لګښتونو اندازه له ۳۴۶ میلیون ډالرو څخه په ۲۰۰۲کال کې ۴،۹ بیلیونه ډالرو ته په ۲۰۱۲ کال کې لوړ شي.
- **ټولنیز پرمختګونه**
  - په ښوونځیوکې داخله له ۱ میلیون څخه (لږې نجونې) په ۲۰۰۱ کال کې له ۹،۲ میلیونو ته (۳،۶میلیونه نجونې) په ۲۰۱۳ کال کې لوړېدل
  - د اوبو د ډیروښو زیرمو ته خلکو د لاس رسي د اندازې لوړیدل په سلوکې له ۲۲ څخه په سلوکې ۵۰٪ ته.
  - په همدې موده کې د عمر منځنۍ کچه د پام وړ زیاتوالی
  - د میندو مړینې اندازه له نیمایي څخه هم کمه شوې ده



# د انکشاف د پام وړ ننګونی او خنډونه

## بیوزلي او د نفوسو شمیر (دیموګرافی)

- د بیوزلیتوب لوړه اندازه او دوام ( د بیوزلی تر کرښې لاندې د نفوسو ٪۳۶ په ۲۰۱۲ کال کې)
- هر کال شاوخوا ۴۰۰۰۰ تنه له کار غوښتونکو سره یو ځای کیږي
- له یوې لسیزې پرمختګ سره سره د بشرې پرمختیا سطحه ټیټه ده

## په بهرنیو مرستو تکیه

- اقتصادي فعالیت، د خدماتو وړاندې کول او امنیتی سکټور تر ډیره بریده په مرستو ولاړ دي.

## امنیت او بی ثباتي

- د کار کسب رامینځته کول او پرځان بساینه تر اغیزلاندې راولي.
- د تولنیز پیوستون لپاره د خدمتونو د وړاندې کول مهم او اړین دي

## اداري فساد او حکومتوالي

- له اداري فساد سره د مبارزې پرمختیا او د کلیدی بنسټونو رامینځته کول.

# د توکيو د کنفرانس او اقتصادي انتقال د رپوټ مهم ټکي

**اټکلی مالي خلا ۲۰۲۵-۲۰۱۳**
(د ناخالص کورنی تولید سلنه د بودجي د ننه او د باندي لګښتونه)




- **پایښت لرونکې مالي خلا او واټن:**

بهرنی مرستي به (د ناخالص کورنی تولید د سلني له مخي) راکمي شي، په داسي حال کي چي تر ۲۰۲۵ کال پوري مالي خلا پاتي کيږي (سره له دي چي د امنيتي، عملیاتي، څارنی او ساتني او پراختیایي مصارفو او لګښتونو له پاره ډیری اړتیاوې پخپل ځای پاتي کیږي.)

- **اقتصادي وده:**

د بريالی سياسي او امنيتي  انتقال په شرط سره اقتصادي وده په منځنی توګه په سلوکي ۵ اټکل شوې ده.

- **نړیواله ټولنه**

نړیواله ټولنه د هغو منفی عواقبو د مخنیوي له پاره چي په بهرنیو مرستوکي کمښت راولي، د بودجي له لاري د مستقیمو مرستو په اهمیت پوهیدلي ده.

- **دولت:**

د عوایدو د ښه والی، د لګښتونو لومړیتوب بندي، د مرستو د جذبولو د ظرفیت لوړول او عامه مالي مديريت سيستم اهميت تثبيت او معلوم شو.

# په ۲۰۱۴-۲۰۱۳ کلونو کې د ناباورۍ او اعتمادي بحران له کبله په هیواد کې د اقتصادی ودې ټیټیدل

- له ۲۰۱۳ را پدیخوا د سیاسي او امنیتي انتقال له کبله ناباوري، چې د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو د اوږدیدو له امله رامینځته شوه د پانګه اچوونکو د باور د له مینځه تلو لامل شوه.
- اقتصادي وده، چې په ۲۰۱۳ کال په سلوکې ۳،۷ راټیټه شوې وه، په ۲۰۱۴ کال کې په سلوکې ۱،۵٪ ته راښکته کیږي، په داسې حال کې چې د ۲۰۰۳ ـ ۲۰۱۲ کلونو ترمینځ د اقتصادي ودې منځنۍ کچه شاوخوا په سلوکې ۹،۴ ده.



## په عوایدوکې کمښت او د مالي خلا زیاتوالی، د دولت په خزانه کې د نقدو پیسو راټیټیدل او نا ورکړل شویو پوروونو زیاتیدل په هیواد کې د مالي بحران د رامینځته کیدو سبب شوي دي

- د دولت د ناخالص کورنۍ تولید عواید په سلوکې ۸،۷ اټکل شوي دي، په داسې حال کې چې دا شمیر په ۲۰۱۱ کال کې ۱۱،۶ و(د هغې له امله د اقتصادي ودې کمښت او د قوانینونو په تطبیق کې کمزورۍ)
- د ۲۰۱۴ کال په لومړیو ۱۰ میاشتو ستره مالي خلا د هیواد په خزانه کې د نقدو پیسو د کمښت او نا ورکړل شویو پوروونو د ډیروالی سبب شوه.
- د دولت لګښتونه د امنیتي او تولنیزو لګښتونوله امله ډیر لوړ شوي دي







*دي کي دبهرنیو د مرستو په وسیله تمویل شوي امنیتي لګښتونه شامل ندي

## له ۲۰۱۴ څخه ناورکړل شوي پورونه او د دولت په خزانه کې د نقدو پیسو خلاصیدل، د دې غوښتنه کوي چې په ۲۰۱۵ کال کې زیاتې مالی وجهې تدارک شي

- ان دا چې د مرستندویه هیوادونو له خوا د بیړني او عاجل تمویل سره د ۲۰۱۴ کال مالي خلا په راتلونکي کال کې د پورونو د ورکړې د ځنډیدلو او د هیواد په خزانه کې د نقدو پیسو د خلاصیدو لامل او سبب کیږي.

- د مالي خلا د تمویل له پاره د ۲۰۱۵ کال وړاندیزشوې بودجې د هیواد په عوایدوکې ډیرزیاتوالی او په دولتي لګښتونوکې کموالی په پام کې نیولی دی:
  - د پورونو بیرته ورکړه او خزانې ته د نقدو پیسو راتول د دې غوښتنه کوي چې ډیری مالي وجهې تدارک شی
  - دا مهمه ده چې د دولتي عوایدو وړاندوینې او اټکلونه د باور وړ وی او په یولړ اغیزناکو اقداماتو ولاړوی.
  - د دولت د لګښتونو کمول باید لومړیتوبونه په پام کې ونیسي چې د اقتصادي ودې پایلې او اغیزې زیانمنې نه شي او اقتصادي لاسته راوړنو ته زیان ونه رسوي.

# لومړیتوبونه:
# راڅرګندیدونکې مسایل

## د زیاتو مالي وجهو په تدارک کولو سره مالي ثبات او تینګښت رامینځته کول

- د عوایدو ښه کول، د بودجې له لارې د ډیرو مرستو تدارک او د پرمختیایي لارسته راوړنو د ساتنې له پاره د لګښتونو لومړیتوب بندي کول.
- په هغه صورت کې چې عواید له مخکنی تخمین او اټکل څخه لږ وي د زیاتو مالي وجهو تدارک له مخکې څخه ډیر مهم دی.
- د امنیتي لګښتونو ډیروالی د دې غوښتنه کوي چې د تمویلی سرچینو د غوراوي له پاره بیا غور وشي

## د باور رامینځته کول او په خصوصی سکتورکې د کاري لارو چارو برابرول

- د پانګه اچوونکو باورکم شوی؛ هر کال ۴۰۰۰۰۰ نوي کار کوونکی وظیفو ته اړتیا لري؛ د بیوزلیتوب کچه تر ۳۶٪ سلنې پورې لوړه او دوامداره ده او په سلوکې ۵۰٪ وګړی زیان منونکی دي.

## د ټولنز پیوستون پیاوړتیا او د خدمتونو وړاندې کول

- د تیرې لسیزې د پرمختیاوو سره سره بی ثباتی او شخړې دوام لری، په کاري قوه کې د ښځو ونډه او په هغوی، سواد کچه ټیټه ده او ماشومانو د مړینې اندازه لوړه ده.

## اداري فساد او حکومتولي

- د اداري فساد په وړاندې مبارزه او د حکومتولی پیاوړتیا په ټولو برخوکې اړین او مهمو کاروڅخه دي.

# د مالي ثبات ټینګښت رامینځته کول:
# کورني عواید باید په ځرګند ډول لوړ شي، خو ستر اصلاحات او سمونونه غواړي.

- **د کورني عوایدو ښه والی د مالي ثبات او ټینګښت بنسټ دی**
  - په کورنیو عوایدو کې له ځرګند زیاتوالي پرته، افغانستان نشژ کولی مالي ثبات او ټینګښت ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې د دولت لګښتي اړتیاوې لوړې دي.

- **بیړنیو، باوري او اغیزناکو کړنوته اړتیا ده، لکه:**
  - د ګمرکونو د عملیاتي پلان د تطبیق چټکول، چې پکې د بشري منابعو په برخه کې اصلاحات او سمونونه، د ګمرکونو ریاست ته د تنفیذي واکونو سپارل، د تفتیش او له تفتیش او پلټنې ځخه وروسته پروسوښه والی او په ټول هیواد کې د ASYCUDA د سیستم د نرخ اینښودلو د برخې تطبیقول شامل دي.
  - « په اضافي ارزښت مالیه» په سلوکې ۱۰٪ نرخ سره تطبیق چټکول او د مالیاتو د مدیریت قانون تصوییبول
  - د خطرونو د احتمال پربنسټ د اغیزناک تفتیش ترسره کول، ترڅو په هیواد کې مالیاتي رعایت ښه شي.

- **په منځ مهاله موده کې استخراجي صنایع** کولی شي د عوایدو په مهمو سرچینو بدل شي، خو د کانونو په سکټور کې د قانوني او مقرراتي چوکاټ ښه والی ته اړتیا ده.

## د مالي ثبات او تينګښت رامينځته کيدل :
## د بودجې له لارې د زياتو بهرنيو مرستو تدارک او د لګښتونو لومړيتوب بندي

- ان دا چې د عوايدو په راټولولوکې په ښه والی سره، يوازې تر ۲۰۱۸ کال پورې به کورني ناخالص توليد په سلوکې ۱۲،۸ زيات شي (چې دا شمير د ۲۰۱۸ کال له پاره له لومړني اټکل او وړاندوينې څخه په سلوکې ۱۴٪ کم دي)

- د بودجې له لارې د بهرنيو مرستو زياتوالی ډير اهميت لري، خو دا غواړي چې د دولت د جذبولو ظرفيت او وړتيا هم لوړه شي.

- د لومړيتوب په اساس د لګښتونو لومړيتوب بندي له ټولو مهمه ده، ترڅو پرمختيايي لاسته راوړنې له لاسه ولاړې نشي.

# د امنیتي لګښتونو د تمویل انتخابونو بیا په غور کتنه کولی شي مهم ملکي او پرمختیایي عملیاتی لګښتونه خوندي کړی.

- د امنیتی لګښتونو له زیاتوالی څخه رامینځته شوي خطرونه په دې لاندې عواملو سره زیاتیږي:
  - د کورنیو عوایدو له پاره نا څرګنده اټکل او د امنیتي لګښتونو د تمویل له پاره د عوایدو د زیاتي تخصیص
  - د افغانستان د وسله والو ځواکونو (اردو- پولیس) له لګښتونو پرته د نورو امنیتي لګښتونو زیاتیدل، چې باید په بشپړه توګه له کورنیو عوایدو څخه تمویل شي.
  - د شیکاګو د تمویلي پلان او دامنیتي لګښتونو د اړتیاوو ترمینځ نا انډولی او نه سمون (لکه د وسله والو ځواکونو شمیر) چې نور پاتي نا تمویل شوي لګښتونه یې د کورنیو عوایدو په غاړه لویږي.

د بودجې د ننه ملکي او امنیتي عملیاتي لګښتونه( په میلیون ډالرو)




د ملکي او امنیتي لګښتونو د تمویل له پاره د کورنیو عواید تخصیص (په میلیون ډالرو)



# د باور رامینځته کول او خصوصي سکټورکي د کاري فرصتونو برابرول

- **آرام سیاسی او امنیتي انتقال** په ناخرګند کمښت کې بسټیز ارزښت او ونډه لري.

- **په مالی سکتور، د پانګونې په چاپیریال او د ځمکې د ملکیت په سیستم** کې د کمزورتیاوو لري کول د پانګه اچوونکو د باور د رامینځته کیدو لامل ګرځیدای شي.

- **کرنه، کانونه او خدمتونه**، له انتقال څخه وروسته دوره کې د اقتصادي ودي ستر سرچینې ګڼل کیږي.

- د کرنیزو تولید د زیاتوالی او د کانونو د کیندنو د فعالیتونو پراختیا کولی شي اقتصادي وده په ۲۰۱۵ – ۲۰۲۵ کلونوکې په منځنۍ توګه په سلوکې ۷٪ زیاته کړي.

# د ټولنيز پيوستون پياوړتيا او د خدمتونو وړاندې کول

**په افغانستان کې د خدمتونو وړاندې کول دوه ګونی رول لوبوي:**

- په عامه بنسټونوکې د باور او ټولنيز پيوستون رامينځته کول، په يوجګړييز ناوړه حالت کې چې اقتصادي حالت او شاليد يې اغيزلاندې نيولی دی.
- د اقتصادي ودی او کاری فرصتونو له پاره بنسټ ايښودنه، د ښوونې او روزنې، رږوغيتا او زيربناوو له لارې

**په اساسي لومړيتوبونو کې لاندې موارد شامل دي:**

- د ښځو او نورو ګوښه کړل شويو ګروپونو ټولنيز ګډون زياتوالی
- د موخه ايزو کليوالي او ښاري پرمختيايي پروګرامونو ملاتړ
- په کاري لومړيتوبونوکې سيمه ييزې هم پالنې اصل ته پاملرنه، د اوبو او انرژۍ اړتياوو پوره کولو، د کارګرانو د مهاجرت د عواملو څېړنې، د سوداګرۍ او ترانزيت پراختيا له پاره
- د خدمتونو د وړاندې کولو د اغيزمنتيا ښه والی

## مخې ته پراته لومړیتوبونه:
## د باور رامینځته کول او د پرمختیا ملاتړ

- په کورنیو عوایدو کې د ښه والی له لارې د مالي ثبات رامینځته کول، د بودجې له لارې د کافي بهرنیو مرستو تدارک، او د لګښتونو لومړیتوب بندي کول.

- د پانګه اچوونکو باور رامینځته کول او په خصوصي سکتور کې د کاري فرصتونو رامینځته کول په مالي سکتورکې د خنډونو د له منځه وړلو له لارې، ځمکوالی یا زمینداري او د پانګې اچولو چاپیریال، په کرنه کې د بالقوه ځواکمنی بیارغونه، خدمتونه او استخراجي صنایع.

- د تولنیز پیوستون پیاوړتیا او د عامه خدمتونو وړاندې کول د تولنیزګډون د هڅوني او تشویق، په ښاري او کلیوالو سیموکې هدفمن پرمختیایی پروګرامونه، او دعامه خدمتونو د وړاندې کولو د اغیزمنتیا لوړولو په شمول.

  - ✓ د سوداګرۍ او ترانزیت، انرژي او اولو او د کار د ځواک د مهاجرت په برخه کې د یو سیمه ییز اقتصادی همکار په توګه د افغانستان د نقش او ونډې د تثبیتولو له پاره په کاري لومړیتوبونوکې د سیمه ییزی هم پالنې اصل ته پاملرنه.

- له اداري فساد سره د مبارزې له پاره په لوړه کچه د حکومتولی پیاوړتیا او تینګښت د عامه مدیریت تامین او نورو مهمو او اساسی برخوکې د ژمنو شتون.